مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور اڅر ۲۰۲۶/۱۰/۱۸

# لر او بر پښتانه او د پاکستان انګرېزي پالیسي

(اته دېرشمه برخه)



(پاکستانی پولیس د یو سپینږی افغان کډوال (چې دوه تنه ښځې هم ورسره لېدل کیږي) د څورونې په حال کې)

**پنجابي پوځ: جوړښت، شالید او کودتاګانې(۳۴)**
**له څلورو هندي مهاجرو جنرالانو وروسته، د پاکستان د پوځ سټردرستیزان (۷)**
**جنرال سید عاصم منیر احمد شاه، (له ۲۰۲۲ز. کاله، تر دې دمه. (۲)**

**پـه زور او سپکاوی سره د افغان کډوالو ایستل**

په ۲۰۲۳ز. کال کې پاکستان د اقتصادي او سیاسي بحرانونو سربېره، د ټيټيپي لهخوا د پاکستان پر امنیتي ځواکونو بریدونه زیات شول، پاکستاني پوځ او حکومت چې د مخنوي څه چاره نه لرله، په پرلهپسې توګه يې پر افغانستان نیوکې کولې چې ګواکې ټيټيپي په افغانستان کې استوګنځایونه لري او له هغه ځایه يې ملاتړ کیږي، **پاکستانیانو پر افغان طالبانو فشار راوړ چې په پاکستان کې دې د ټيټيپي د بریدونو مخه ونیسي!**

جنرال عاصم منیر د ۲۰۲۴ز. کال د جنورۍ په ۲۴مه نېټه، په اسلام آباد کې د دولتي او خصوصي پوهنتونونو له یو شمېر محصلینو سره په یوه غونډه کې په تونده او بېباکه ژبه وویل: **«کله چې د یو پاکستاني د امنیت خبره وي، موږ به ټول افغانستان ترې ځار کړو او د یو پاکستاني ژوند د ټول افغانستان [له خلکو] څخه مهم دی.**[1] جنرال منیر په همدې غونډه کې ادا هم وویل چې افغانستان له

[1]:https://pa.azadiradio.com/a/32791793.html


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

اورډې مودې راپېښوا د پاکستان په ناامنیو کې لاس لري. هغه طالبانو ته خبرداری ورکړ چې د پاکستاني وګړو پر امنیت به سترګې پټې نه کړي.
نوموړي جنرال په خپلو څرګندونو کې څرګنده کړه چې پر لوېدیځ پوله پروت هېواد [افغانستان] کله هم له پاکستان سره دوستي نه ده پاللې او په بلوچستان کې له اوږدې مودې راهیسې د یاغیانو سره مرسته کوي. جنرال عاصم غونډې ته زیاته کړه چې «افغانستان یوازینی هېواد ؤ چې د پاکستان تر آزادۍ وروسته یې په ملګرو ملتونو کې د پاکستان له غړیتوب سره مخالفت وکړ.[2]

په پاکستان کې د امنیتي حالت د خرابېدو له امله (چې پاکستاني چارواکي یې هکـپک کړي وو) هر پاکستاني چارواکي افغان طالبان او په پاکستان کې افغان کډوال کرم بلل او ډول، ډول پېغورونه یې ورکول، د دغو چارواکو په لړ کې یو هم د پاکستان د دفاع وزیر **(خواجه اصف)** دی چې د ټولو ډیپماتیکو اصولو پر خلاف د یوې ژبورې او پېغور ورکونکې ښځې په څېر افغانانو ته سپکې سپورې وایي، هغه افغان کډوال د پاکستان له مخالفو وسلهوالو ډلو سره په مرسته کولو تورن کړل او دا یې وویل چې دوی پاکستان او د پاکستان ښارغ ته درناوی نه لري قاچاق وړونکي دي... اصف وویل:«افغان کډوالو پاکستان له سختو ستونزو سره مخ کړی دی. افغان کډوالو د پاکستان پر ترانسپورټ ولکه ټینګه کړې او د اورګاډي پټلۍ یې هم زیانمنه کړې ده او د افغان ترانزیټي سوداګرۍ اسانتیاوې د قاچاق لپاره کارول کېږي، په داسې حال کې چې په بلوچستان او خیبر پښتونخوا کې روان ترهګر بریدونه د افغانستان ملاتړ لري.
**افغان کډوال د پاکستان ښرغ ته سلامي نه کوي او (پاکستان زنده باد!) نه وایي،** چې په داسې حال کې هغوی ته ورونه ویل ناشونې کار دی.[3]
سره له دې چې د کډوالو ایستل په ۲۰۲۳ز. کال کې پیل شوي وو چې ډېر شمېر یې هېواد ته ستانه شول خو بیا هم په پاکستان کې د کډوالو موضوع په بشپړه توګه حل نه شوه، خواجه اصف چې یو غورتن کس دی وویل:«د افغان کډوالو د ستونزې حل د میاشتو خبره نه، بلکې په څو ورځو کې د حل کېدو موضوع ده. که افغانستان د جنت غونډې ښکلی شوی وي نو کډوال باید بېرته خپل هېواد ته ستانه شي.»[4]
خواجه اصف د خپلو پېغورونو په لړ کې وویل:**«پاکستان له څو لسیزو راپېښوا د کډوالو مېلمهپالنه کړې خو د هغوی وفاداري باید له پاکستان سره لیدل شوې وای. که تاسو یوې ناوایۍ ته ورشئ او هغوی ته ووایئ چې (پاکستان زندهباد) ووایه نو دا به ونه وایي، دا خلک زموږ ډوډۍ خوري او بیا زموږ پر ضد زموږ له دښمن سره یوځای کېږي.**

---

[2]:https://www.pashtovoa.com/a/reactions-to-pakistani-general-asim-munir-remarks-on-afghanistan/7458662.html
[3]:https://urdu.arynews.tv/khawaja-asif-at-ary-news-23-sept-2025/
[4]:https://urdu.arynews.tv/khawaja-asif-at-ary-news-23-sept-2025/

هغه په پای کې وویل:«له دې وروسته د ترهګرو لپاره هېڅ ډول رعایت د منلو نه دی او موږ همدا پیغام افغانستان ته هم ورکوو.»[5]

لکه څرنګه چې له ۸۰ یمې زېږدیزې لسیزې راپدېخوا، په بېلابېلو پړاوونو کې، پاکستان ته په سلګونو زره افغانان کډوال شوي وو او په ۸۰-۹۰یمه لسیزه کې **پاکستانیو ملایانو او چارواکو، افغان کډوال د مکې د هغو مسلمانو مهاجرو په نوم یاد کړل چې د ظلم او ستم له امله یې خپل کورونه پرېښودلي وو او له پیغمبر (ع) سره له مکې څخه مدینې (یثرب) ته یې هجرت کړی ؤ او هغه ځایي خلک او د پاکستان حکومتي چارواکي چې افغان مهاجرینو ته یې په خپلو سیمو کې ځای ورکړی ؤ، د مدینې د (انصارو) سره پرتله کول.** تر دې چې د پاکستان ولسمشر جنرال ضیاء افغانانو ته د مهاجرو اصطلاح کاروله او له خلکو یې د افغان کډوالو په اړه د دیني خواخوږۍ غوښتنه کوله.[6]

پاکستانیو چارواکو د دغو افغان کډوالو په شتون کې خورا ډېرې شمتنې تر لاسه کړې، تر دې چې د افغان کډوالو له برکته، پاکستان د اتومي وسلو څښتن شو. **خو کله چې پاکستانیو جنرالانو له افغان اسلامي امارت سره اړیکې خرابې شوې نو پر افغان طالبانو د فشار راوړلو په موخه یې په پاکستان کې د مېشتو افغانانو پر جبري ایستلو پیل وکړ. «تر څو د کډوالو د ایستلو له لارې د طالبانو پر حکومت فشار راوړي چې د ترهګرۍ موضوع جدي ونیسي.»**[7]

جنرال منیر او د پاکستان لنډمهالي لومړي وزیر، **(انوار الحق کاکړ)** د ۲۰۲۳ز. کال په اکتوبر کې اعلان وکړ چې ټول بې‌اسناده بهرنیان باید د نومبر تر لومړۍ نېټې پورې له پاکستانه ووځي، ګنې په زور به وایستل شي. جنرال عاصم منیر په وار وار له دغې پرېکړې دفاع وکړه، ادعا یې وکړه چې بې‌اسناده کډوال د پاکستان امنیت او اقتصاد ته زیان رسوي.[8]
جنرال منیر د دغو تورونو په تړاؤ هېڅ ډول اسناد وړاندې نه کړای شول. د کډوالو د ایستلو په اړه د ملګرو ملتونو، د امریکا متحده ایالاتو او د بشر حقونو د سازمانونو نیوکې راوپارولې. «د ملګرو ملتونو(UN) ، په ځانګړې توګه د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمېشنرۍ (UNHCR) په وار وار د پاکستان د دا ډول تورونو مخالفت کړی. د ملګرو ملتونو عمومي منشي **(انتونیو ګوتېرېش)** او د کډوالو اداري په رسمي بیانونو کې غوښتنه کړې چې پاکستان باید د افغان کډوالو د جبري ایستلو لړۍ بنده کړي.»[9]

په پنجاب او سند ایالتونو کې ځایي ناپېنتنو د افغان کډوالو د ایستلو په اړه پولیسو ته راپورونه ورکول او مرستې یې ورسره کولې خو په پښتونخوا کې خبر بدله وه، ډېرې پښتنانه د کډوالو په ځورولو ډېر

---

[5]:https://www.urdunews.com/node/895645
[6]:https://journals.sagepub.com/doi/10.1177/23315024231160764?utm_source=chatgpt.com
[7]: Megan Fahrney ،Why Pakistan Is Deporting Afghan Migrants
[8]:https://www.darivoa.com/a/illegal-foreign-immigrants-have-a-negative-impact-on-pakistan-s-security-and-economy-general-munir/7389457.html
[9]:https://news.un.org/en/story/2023/10/1142022


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنېزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په خیر و لولئ

خواشيني وو، تر دې چې هغه مهال پر خواله رسنيو يو تن پښتون پوليس وليدل شو چې په ژړا ۋ او ويل:**«ښار خوند نه کوي ښار خالي دی...»**
همدا شان پخوانی پښتون لومړی وزير عمران خان چې له افغان کډوالو سره يې خواخوږي لرله **«پر پاکستانيو چارواکو د افغان کډوالو د ايستلو پر پاليسی نيوکه وکړه. هغه غوښتل افغان کډوالو ته د پاکستان د تابعيت ورکولو په موخه يوه لاره ومومي خو کله چې مخالفو ګوندونو سختې نيوکې پرې وکړې، اړ شو له خپلو پلانونو لاس واخلي.**[10] عمران خان څو ځله د خپلو تاکتيزو هلوځلو پر مهال ويلي وو چې له افغانستان سره د اروپايي هېوادونو په څېر پرانيسي پولي غواړي.



له دغو افغان کډوالو (چې پاکستانيو چارواکو په لومړيو کې له مهاجرو اصحابو کرامو سره پرتله کړي وو) داسي ناانساني او کفري کړني تر سره کړې چې په اوريدلو يې سړی حيران او بوږنيږي:
پاکستانيو پوليسو د افغان کډوالو پر کورونو باندې د شپې او سهار وختي چاپې اچولې، د کورنو دروازې يې ماتولې او افغانان يې په وهلټکلو له خپلو کورونو رااېستل. په لاندې لېنک کې د پاکستانيو پوليسو وحشت وګورئ:
https://www.youtube.com/watch?v=KUi7cVNbulo

د ډېرو افغانانو **کورونه د پلټنو پرمهال پوليسو ولوټل او لوربيه توکي يې غلا کړل، د دوی ښځې ماشومان يې ونيول او د توقيف مرکزونو ته يې ولېږل.**

پاکستاني پوليس چې ډېری يې رشوتخواره دي، يوې ډلې به له کډوالو افغانانو بډې واخيستلې او بلې ډلې به ونيول او زندانونو ته به يې واچول.

افغان کډوال د نيول کيدو له وېرې خپلو کارونو، بازارونو، روغتونو او نورو ورځنيو چارو ته نه شول تللی. **ماشومان ښوونځيو ته نه تلل.**

د کرايي کورونو قراردادونه، نه نوي کيدل، د کورنو خاوندانو پر ځينو کډوالو فشار راوړ چې کورونه خالي کړي. ځينو ګاونډيانو به د کډوالو په اړه چارواکو ته راپورونه هم ورکول.

**افغان کډوالو چې د استوګنې قانوني اسناد يې هم لرل پوليسو به د هغوی قانوني اسناد څيرې کول او يا به يې له ځان سره ساتل، بيا به يې په دې تور ونيول چې اسناد نه لري. تر دې چې هغو کسانو به چې ويزې لرلې هم له ځورونو سره مخ وو.**[11]

---

[10]: Megan Fahrney ،Why Pakistan Is Deporting Afghan Migrants
[11]: https://www.unhcr.org/sites/default/files/2025-07/afghanistan-border-monitoring-report-january-may-2025.pdf


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

زموږ د تره زوی چې د څو میاشتو پاکستانی ویزه یې هم لرله او غوښتل یې له هغه ځایه بهر ته ولاړ شي، کله چې د پنجاب په کوم ښار کې هوټلونو ته ورتللو نو پنجابیانو په هوټل کې ځای نه ورکاوه، هغه اړ شو چې له یو پښتون کباړي سره څو شپې تېرې کړي.

**د کډوالو ښځې او ماشومان، په ځانګړي توګه ځوانې ښځې په وهلو، هلو له ویښتانو نیولې او په راښکلو، راښکلو یې موټرو ته اچولې.** په دې لینک کې د پېښو د شاهد وینا اورېدلی شئ:

https://www.youtube.com/watch?v=Fgpfo6REld4

**بیا به یې نیول شوي ښځې او ماشومان، په داسې حال کې له ډیورند کرښې واړول چې سرې به یې د پاکستان په زندانونو کې بندیان او نور به د نیولو له وېرې پټ وو چې په دې توګه دوی نه شول کولی له خپلو کورنیو سره یو ځای شي.** په لاندې لینک کې د افغان کډوالو سړي او ماشومان وګورئ چې نیول شوي او د ځارویو په څېر یو پر بل په پړیو ترل شوي دي او زندانونو ته لیږل کیږي:
https://www.facebook.com/watch/?v=820300179030966

هغو افغانانو چې په خپله خوښه یې کډې بار کړي وې، د تورخم او سپین‌بولدک په دروازو کې، د سختې تودوخې او بارانونو لاندې په بېلابېلو پلمو تر ۱۰-۱۵ورځو پورې ایسار کړای شوي وو او د اوښتلو اجازه نه ورکول کیدله.

پاکستاني ځواکونه تر دې پورې بې‌تمیزه وو چې د کډوالو د ایستلو په بهیر کې پولیسو د ژبې، کلتور او څېرو د ورته‌والي پر بنسټ پښتانه نیسي چې په ځینو پیښو کې د پښتونخوا د قبایلي سیمو پښتانه ځوانان چې په جیب کې یې د پاکستان شناختي کارتونه نه درلودل، د افغان کډوال په نوم له ډیورند کرښې اړول. چې یوه بېلګه یې د محمد انس په نوم یو ۱۷ کلن ځوان ؤ چې د ۲۰۲۳ز. کال د نومبر پر ۵مه نېټه، په کراچۍ کې نیول شوی، د سلطان‌آباد بندخونې ته لیږدول شوی او وروسته د چمن پولې له لارې افغانستان ته شړل شوی ؤ.
سربېره پر دې، د کډوالو د جبري شړلو په لړ کې د نغدو پیسو او د کور د سامانونو په لیږد سخت بندیزونه لګول شوي وو چې په دې توګه افغان کډوال **د پاکستان حکومت لخوا په داسې سیستماتیک او پلان شوي ډول لوټ شول چې «هرې کورنۍ ته یوازې د ۵۰ زرو پاکستانیو کلدارو اجازه وه چې له ځان سره یې یوسي. بهرنۍ اسعار تر ۱۰۰۰ امریکایي ډالرو پورې اجازه وه، له دې زیاتې پیسې پر کرښه د پاکستانیو ځواکونو لخوا ترې شوکول کیدلې.»**[12]

بده خو لا دا چې د پاکستان حکومت د بودجې کمښت دې ته اړ کړ چې **له بې‌اسناده کډوالو څخه د وتلو په بدل کې ۸۳۰ ډالره فیس واخلي** چې دا د پاکستان د یو وګړي له منځنۍ کلنۍ عاید څخه هم زیات

[12]:https://www.unhcr.org/news/stories/forced-returns-pakistan-deepen-afghanistan-s-humanitarian-crisis

دي.[13] خو که له کډوالو سره ۸۳۰ ډالره نه وو نو هر څومره پیسې به چې ورسره وې، د مبایلو سره یو ځای ترې اخیستل کیدلې.

**له بدو بده بیا دا وه چې د افغان کډوالو ډېرې منقول او نامنقولې شتمنې جایدادونه: څکمې، کورونه، دوکانونه، موټر، موټرسایکلونه، غواګانې، میږې، وزې او نور په پاکستان کې پاتې شول او دا ډول توکي یې په ډېره ټیټه بیه وپلورل.**[14] **څینو کډوالو خپل مالونه ګاوندیانو ته وړیا پرېښودل او څینو بیا په پور (قرض) ورکړل.**

کډوالو نه شول کولی برېښنایي وسایل، ماشینونه، ساختماني توکي، نوي سوداګریز مالونه (چې پاکستاني حکومت د قاچاق نوم ورکړی ؤ) له ځان سره هېواد ته یوسي.

کډوالو یوازې د خپل کور د زړو او کارول شویو بسترو، د پخلنځي لوښي او نورو عادي توکو د وړلو اجازه لرله.

د جنرال منیر او د پاکستان لندمهالي لومړي وزیر، **(انوار الحق کاکړ)** د ۲۰۲۳ز. کال د اکتوبر له پرېکړې وروسته، د ملګرو ملتونو د کډوالو اداري (UNHCR) او نړیوالو سرچینو د راپوروںو پر بنسټ، تر اوسه پورې **شاوخوا ۲.۷ میلیونه (۲ میلیونه او ۷۱۳ زره) افغان کډوال له پاکستان څخه په زوره ایستل شوي یا د فشارونو له امله افغانستان ته ستانه شوي دي.**[15]

پښتون لیکوال او سیاسي شخصیت ښاغلي **(افراسیاب خټک)** وایي: پا تاریخ کې داسې ناوړه اعمال چا له جنګي اسیرانو سره نه دي کړي لکه پاکستانیو چاراوکو چې له دوی سره وکړل.

**لنډه دا چې پاکستانیو ځواکونو (د جنرال منیر پر مشرۍ) او تش په نوم پښتون، لومړی درجه ګلخان او پنجابي غلام انوارالحق کاکړ (چې د پاکستان لندمهالی لومړی وزیر ؤ) له افغان کډوالو سره داسې ناوړه چلند وکړ چې یوازی اسراییلي صهیونستانو له فلسطینی مسلمانانو سره کړی ؤ.**

لکه څرنګه چې پاکستانیو چاراواکو ادعا کړې وه چې د پاکستان امنیت او اقتصاد د افغان کډوالو په شتون کې خراب شوی دی. خو کله چې ډېری کډوال وایستل شول د پاکستان امنیت او اقتصاد لا پسې ویجاړ شو، پاکستانیانو چې کومه محاسبه کړې وه هغه سرچپه وختله، د پاکستان اقتصاد لاپسې خراب شو ځکه چې له افغانستان سره د پاکستان سوداګري په ټپه ودریدله.

بله دا چې د پاکستان امنیت له پخوا څخه نور هم ناوړه شو، وجه دا ده لکه چې وایي:(هر عمل عکس‌العمل لري) د افغان کډوالو ایستل، په داسې سپکوونکي او له شرمه ډکه بڼه، هغه ځوانان چې د پاکستانیو امنیتي ځواکونو لهخوا ځوریدلي، کورونه او کاروبار یې ویجاړ شوي او نورو ډول، ډول بې‌عزتیو سره مخ شوي وو، ځانونه سپک او حقیر ورته ښکاره کیدل، طبیعي ده چې د غچاخیستلو

[13]: Megan Fahrney ،Why Pakistan Is Deporting Afghan Migrants
[14]:https://www.dw.com/en/pakistan-steps-up-deportations-of-afghan-refugees/a-72175041
[15]:Pakistan steps up deportation of Afghans without valid visas". *www.afintl.com*. 11 July 2026. Retrieved 12 July 2026.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

انګېزه به په کې رامنځ شوي وي چې د پاکستان له مخالفو وسلهوالو ډلو سره د خپل غچ د اخيستلو په موخه يو ځای شي، د دې وړاندوينه ځينو شنونکو او ځينو هېوادنو هم کړې وه. **«منتقدين چې متحده ايالات او د افغان طالبانو حکومت هم په کې شامل دی، خبرداری ورکړ چې د پاکستان دا ګام بنايي د افراطيت د لا زياتېدو لامل شي.»**[16]

بلې خوا، پاکستان پر ډيورنډ کرښه، په ځانګړې توګه د سپين بولدک پر دروازه، د تګ راتګ لپاره د پاسپورټ او ويزې د لرلو شرط اجباري کړ. چې له دې وړاندې د کرښې دواړو غاړو وګړو پرته له ويزې تګـراګ کاوه. د دې پرېکړې په غبرګون کې د کرښې کوزې غاړې زرګونو ځايي خلکو په مياشتو، مياشتو پرلتونه وکړل خو پاکستاني چارواکی همداسې پر خپل خره باندې، سرچپه سپاره وو. دغه دروازې او ټرانزيټي لارې وروسته له هغې د پاکستاني لوري لهخوا په بشپړ توګه وتړل شوې چې د دواړو هېوادونو سرحدي ځواکونو ترمنځ سختې نښتې او د ډيورند کرښې په اوږدو کې د يو بل پر پوستو بريدونه وشول.(۲۰۲۵ز. کال د اکتوبر ۱۱مه او ۱۲مه نېټه.)



(جنرال عاصم منير او د پاکستان لنډمهالی لومړی وزير، پنجابی ګوډاګی او قام شرموونکی، انوارالحق کاکړ.)

نېټه۱۴۰۵/۷/۲۴ل. ل

**نور بيا**

[د ښاغلی محمد انور اځړ نوری ليکنې په دی لينک کی ولولی.](#)

[16]: Megan Fahrney ،Why Pakistan Is Deporting Afghan Migrants


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په ځير و لولـئ